روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۷ ماه دلو سال ۱۳۹۶

## د ۲۱ ولایتونو لپاره د پوهنې نوي رئیسان معرفي شول

په پوهنې وزارت کې د سي بي آر پروسې د عملي کولو په دوام ۲۱ نوي رئیسان وټاکل شول. دغو رئیسانو نن له ولسمشر محمد اشرف غني سره وکتل او رسماً خپلو دندو ته معرفي شول.

د هیواد جمهور رئیس له نویوټاکل شویو رئیسانو وغوښتل، چې په پوره پاکۍ، قاطعیت او جدیت سره کار وکړي او دا په پام کې ولري، چې دنده یې تر ټولو مهمه او حیاتي ده. ښاغلي ولسمشر یادو کسانو ته د توفیق هیله وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د معارف کیفیت ته پاملرنه وکړي او په خپلولمړیتوبونو کې یې وګني.

جمهور ر ئیس محمد اشرف غني له نویو معرفي شویو کسانو دا هم وغوښتل، چې ۱۳۹۷ کال به د معارف د حشر د کال په نامه نومول کېږي او دې ته دې تیار وي، چې په دې کال کې ځومره اغېزناک کارونه کولای شي.

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ابراهیم شینواري هم له نویو ټاکل شویو رئیسانو سره په خبرو کې غوښتنه وکړه، چې د هیواد ستونزو، دردونو او کړاوونو ته په کتو داسې کار وکړي، چې یوازې د لوی الله (ج) رضا او ددې ولس خدمت یې هدف وي. ده له خپلو نویو همکارانو وغوښتل، چې په پوره جدیت سره چارې همغږې، اصلاحات پلي او کارونه منظم کړي. د پوهنې وزارت سرپرست د وزارت د رهبرۍ په استازیتوب نویو رئیسانو ته ډاډ ورکړ، چې د



چارو د سمون په برخه کې هر ډول ملاتړ ورسره دی او اسانتیاوې به ورته برابرېږي.

د پوهنې ریاستونو ته نویو معرفي شویو کسانو هم ژمنه وکړه، چې په پاک نیت به چارې پر مخ بیایي او له دې امله، چې دې برخې ته په یوه سپېڅلې روحیه راغلي، د ناوړه چارو او کړنو مخه به نیسي.

د ولایتونو لپاره نوي معرفي شوی کسان دادي:...

(۲مخ)

## تهدابگذاری یک باب مکتب و افتتاح ابتدائیه جمال خیل در ولایت زابل

به اشتراک محترم خیال محمد حسینی والی ولایت زابل، مسوولان ریاست معارف آن ولایت محاسن سفیدان و اهالی منطقه تعمیرابتدائیه جمال خیل ولسوالی شاه جوی ولایت زابل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد و هکذا سنگ تهداب تعمیر جدید مکتب «هلان رباط» نیز گذاشته شد.




در مراسم افتتاحیه مکتب مذکور محترم خیال محمد حسینی از اینکه دورۀ کاری خود را در این ولایت با بازسازی و نوسازی در بخش معارف آغاز نموده، اظهار خرسندی نموده از مردم خواست تا در راستای بهبود معارف با دولت و رهبری ولایت کمک و همکاری نمایند.

شایان ذکر است که مکتب جمال خیل دارای ۸ صنف درسی ۲ اتاق اداری دیوار احاطه، میز و چوکی و سایر سهولت های ضروری می باشد که ظرفیت حدود ۱۰۰۰ شاگرد را دارد .

مکتب یادشده به ارزش ۹ میلیون افغانی از بودجه انکشافی وزارت معارف اعمار گردیده است.

این در حالی است که هفته پیش تعمیر جدید لیسه چونی نیز در مرکز این ولایت افتتاح و آماده بهره برداری گردیده بود.

هم چنان محترم رحیم الله لودین رئیس معارف آن ولایت نیز با سپاس از اهتمام مقام ولایت وعده سپردند که در بخش تعلیم و تربیه اولاد وطن که مستلزم پیشرفت کشور است کوشش زیاد می نماید.

## اعمار یک باب مکتب از سوی یکی از بزرگان قومی

محترم حضرت محمد یکتن از بزرگان قومی ولسوالی زرمت ولایت پکتیا تعمیر ابتدائیه «تروی» را در مساحت یک ونیم جریب زمین به هزینه ۱،۲ میلیون افغانی اعمار نموده است.مکتب مذکور دارای شش صنف درسی با سایر ضروریات آن بوده که قرار است با آغاز سال تعلیمی جدید به بهره برداری سپرده شود

.محترم استاد کوچی خاځی رئیس معارف این ولایت گفت: «جای خوشی است که یکتن از بزرگان قومی و شخصیت با رسوخ منطقه ضمن وقف یک ونیم جریب زمین شخصی خویش به معارف، مصارفات اعمار مکتب مذکور را نیز پرداخته است.رهبری ریاست معارف ولایت پکتیا با اهدای دستار از اهتمام محترم حضرت محمد به معارف تحسین نمودند

.هم چنان محترم حضرت محمد در مقابل اظهار خرسندی نموده گفت : شگوفانی نظام معارف یگانه راه پیشرفت و ترقی جامعه پنداشته میشود و هر افغان مسوولیت دارد تا درین راه قدم های استوار و میتن بردارد .

محترم حضرت محمد از سایر هموطنان خواست تا در مناطق



شان در گسترش معارف جدوجهد نموده تا اطفال شان از مزایای معارف پیشرفته مستفید شوند.وزارت معارف از کمک حمایت و وطندوستی محترم حضرت محمد قدردانی نموده و از عموم مردم به ویژه سرمایه داران و تجار ملی تقاضا بعمل آورد تا برای بهبود کمیت و کیفیت معارف کشور از هیچ نوع همکاری دریغ نورزند.

## سیلاب قول اردو د ۲۰۱ ننګرهار له پوهنې ریاست سره د کمپیوټرونو مرسته وکړه

په ختیځ کې د ۲۰۱ سیلاب قول اردو د ننګرهار د پوهنې له ریاست سره د ۷۰ پایو کمپیوټرونو مرسته وکړه. دغه کمپیوټرونه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولینو ته وسپارل شول.

د یادې قول اردو مرستیال برید جنرال محمد علي شجاعي په خپلو خبرو کې یادونه وکړه، چې دوی له دې وړاندې هم له ښوونځیو او تعلیمي مرکزونو سره د د قرطاسیې او نورو درسي توکو مرسته کړې ده د پوهنې وزارت او ملي دفاع وزارت ترمنځ د شوي یو تړون له مخې د ننګرهار د پوهنې له ریاست سره د هغو ۷۰ پایو کمپیوټرونو، چې د دفاع وزارت له سیستم څخه وتلي، خو په اداري او نورو برخو کې ترې ګټه اخیستل کیدای شي؛ مرسته کوي .

د ننګرهار د پوهنې سرپرست رییس سید عیسی سادات د ۲۰۱ قول اردو له یادې مرسته مننه وکړه، زیاته یې کړه، چې له دغو کمپیوټرونو به د اداري چارو د چټکتیا او د ښوونکو او زده کوونکو د پوهې د کچې په لوړولو ک ګټه واخل .

## لوګر کې ۳۱ ښوونځي بیا رغول شوي دي

په تېرو دریو میاشتو کې د لوګر په مرکز او ولسوالیو کې د ۳۱ ښوونځیو د ودانیو رغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي .

په یاده موده کې د ۲۷ ښوونځیو ودانۍ د پوهنې وزارت د پرمختیایي بودیجې او ۴ نور ښوونځي د عرفان موسسې له لوري ترمیم او بیا رغول شوي دي.

د دغو ښوونځیو پر رغولو ۱۱،۷ میلیونه افغانۍ لګېدلي، چې لس میلیونه درې سوه پنځه اویا زره افغانۍ د پوهنې وزارت او پاتې نورې د عرفان موسسې له خوا ورکړل شوي دي.

سرمقاله:

# نظام معارف با کیفیت ضامن پیشرفت کشور و جامعه است

از پیدایش انسان بروی زمین همه انسانها برای رفع نیازمندی های شان می کوشیدند تا سهولت های را در امورات روزمره خویش به وجود بیاورند انسانها رفته، رفته به مشکلات خویش فایق گردیده وعرصه های تاریک زندگی شان را روشن ساختند. جوامع بشری باکسب تجارت علم ودانش توانستند مشکلات که سد راه زندگی مرفع شان می شد از راه برداشته و به سهولت های فراوان که زندگی یک انسان مدرن را تضمین می کرد دست یافتند. امروز که جهان با پیشرفت های چشمگیر از علم و تکنالوژی دست یافته اند نتیجه زحمات است که آنها در راه تعالی و ترقی کشور شان کشیده اند. مردم ما با وجود اینکه با مشکلات زیادی از جمله جنگ های تحمیلی بیگانگان دست و پنجه نرم می کنند با درک جایگاه علم و دانش ،فرزندان شان را جهت فراگیری این نعمت بزرگ الهی روانه مکاتب می کنند.وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان جهت بر آورده شدن آرزوی دیرینه مردم صحلدوست وعلم پسند خود وجیبه ملی و دینی خود می داند که سهولت های لازم را برای اولاد کشور فراهم سازد تا آنها بتوانند با خاطر آرام و دور از هر نوع مشکلات به آموختن علم ودانش، این فریضه الهی دست یابند. وزارت معارف با گذشت هر روز به کوشش های خویش در عرصه دست رسی به یک معارف متوازن و یک نظام معارف که از هر حیث جوابگوی نیازمندی های یک جامعه مدرن باشد ادامه میدهد،چنانکه درین عرصه به پیشرفت های زیاد هم نایل آمده است.وزارت معارف تا الحال ۸،۲۴ میلیون شاگرد را در نهاد های تعلیمی خود دارد که این رقم نسبت به سال های گذشته یک رقم درشت را نشان میدهد،همچنان بیشتر از ۲۰۰،۰۰۰ استاد درین نهاد ها مصروف ارائیه خدمات آموزشی می باشد.درتمام کشور بیشتر از ۱۷،۴۰۰ باب مکاتب فعال است.وزارت معارف کشور تلاش می ورزد تا در آینده نه چندان دور نظام معارف را هم سطح معارف کشور های همسایه ساخته و درین عرصه اقدامات جدی را هم روی دست گرفته اند یکی از مشکلات عمده که سد راه پیشرفت معارف در کشور است همانا نبود کتب درسی در مکاتب و نهاد های تعلیمی است . وزارت معارف طی سال جاری به سطح کشور حدود بیشتر از ۲۱ میلیون جلد کتب درسی را به تمام مکاتب کشور توزیع نموده است که این روند با سرعت هر چه تمامتر آن ادامه دارد.همچنان ارزیابی سطح دانش متعلمین شیوه های تدریس، بکارگیری مواد ممد آموزشی و کیفیت تدریس در مکاتب کشور سالانه سه مرتبه این مکاتب مورد نظارت قرار می گیرند.استخدام معلمان مسلکی از طریق پروسه آزاد که کاملاً یک پروسه شفاف است از جمله اولویت های وزارت معارف به شمار می رود و در ولایات کشور هم غرض بلند بردن سطح علمی استادانی که سویه های تعلیمی شان به سطح بکلوریا است با ایجاد دارالمعلمین ها و الحاقیه ها توانسته است که تعداد زیادی از معلمان را به سطح چهارده پاس فارغ نماید که این روند هنوز هم ادامه داشته و در بلند بردن سطح کمی و کیفی نظام معارف رول ارزنده دارد.تجدید نظر روی نصاب تعلیمی هم یکی از برنامه های وزارت معارف بوده که این پروسه هم با جدیت تمام درحال اجرا است که درآینده نزدیک به پایه اکمال خود خواهد رسید و به شکایات که از بابت نصاب تعلیمی موجود است نقطه پایان گذاشته خواهد شد.آموزش ساینس و تجهیزات مکاتب با لابراتوار های ساینس در بهبود کیفیت تدریس و آموزش خاصتاً مضامین ساینسی نقش اساسی دارد با توجه به این اصل وزارت معارف تلاش دارد تا مراکز ساینسی در مکاتب تعلیمات عمومی و سایر مراکز تعلیمی ایجاد و تجارب ساینسی بصورت عملی انجام گردد. به تعداد ۷۶۶۱ تن معلم و تکنیشن لابراتوار توسط اعضای علمی ریاست مرکز ساینس به سطح مرکز و ولایات در بخش مضامین کیمیا، فزیک، بیولوژی و ریاضیات و استفاده از مواد محیطی آموزش دیده اند و به تعداد ۹۳ باب مکتب در ولایات مختلف به کمک مالی موسسه ایشیا فوندیشن و GIZ با مواد لابراتوار تجهیز گردیده است.هدف کلی وزارت معارف اینست تا همه اطفال سن مکتب بدون تبعیض بطور متوازن در سراسر کشور به تعلیم و تربیه با کیفیت دسترسی پیدا کرده تا قابلیت های لازم برای زندگی سالم و موفق فردی، فامیلی و اجتماعی و ادامه تحصیل درسطح تحصیلات عالی را بدست آورند. شاگردان عزیز! رمزپیشرفت و تعالی کشور در آموزش و کسب علم نهفته است و بس. وقت را از دست ندهید با سرعت هر چه بیشتر بیاموزید که یگانه راه نجات از این همه بدبختی ها کسب علم و دانش است و از والدین گرامی هم تقاضامندیم که در عرصه بهبود نظام معارف کشور ما را یاری رسانده فرزندان شان را تنها نه گذاشته از روند آموزش فرزندان شان در مکاتب باخبر بوده و درهمکاری با نظام معارف به مشکلات و چالش های که سد راه آموزش فرزندان شان میگردد رسیدگی نمایداستعانت وهمکاری بانظام معارف روزنه امید برای یک زندگی ارام و مرفه را بروی همهٔ فرزندان و باشندگان کشور می گشاید.

د لومړي مخ پاتې

## د ۲۱ ولایتونو...

۱ -ذکریا رحیمي، زده کړې ماسټر، د بادغیس ولایت لپاره

۲ -محمد عظیمي، لیسانس، د فراه ولایت لپاره

۳ -احمدضمیر ګوارا، ماسټر، د هرات ولایت لپاره

۳ -عبدالله حمیدي، ماسټر، د لغمان ولایت لپاره

۵ -نصرالله زاهد، لیسانس، د زابل ولایت لپاره

٦ -محمد داود شاه صفاري، ماسټر، د هلمند ولایت لپاره

۷ -حسیب الله شینواری، ماسټر، د ننګرهار ولایت لپاره

۸ -عبدالسمیع ابدیار، ماسټر، د تخار ولایت لپاره

۹ -عبدالمتین سروري، ماسټر، د سمنګانو ولایت لپاره

۱۰ -رحمت الله سیرت، لیسانس، د دایکندي ولایت لپاره

۱۱ -عبدالعلیم عیار، ماسټر، د کاپیسا ولایت لپاره

۱۲ -سید عزیز احمد هاشمي، لیسانس، د کابل ولایت لپاره

۱۳ -محب الرحمن انصار، ماسټر، د غزني ولایت لپاره

۱٤ -مجیب الرحمن همدرد، ماسټر، د کنړ ولایت لپاره

۱۵ -حبیب الله سباوون، ماسټر، د کابل ښار لپاره

۱٦ -کوچي خاځي، لیسانس، د پکتیا ولایت لپاره

۱۷ -روح الله محقق، ماسټر، د بدخشان ولایت لپاره

۱۸ -محمد امین حماد، ماسټر، د نورستان ولایت لپاره

۱۹ -عبدالرحمن الفت، ماسټر، د کندهار ولایت لپاره

۲۰ -محمد سعید منصور، ډاکتر، د میدان وردګو ولایت لپاره

۲۱ -ایوب آروین، ماسټر، د بامیانو ولایت لپاره

پوهنې وزارت یادو ټولو رئیسانو ته د لوی خدای (ج) له درباره په ټولو چارو کې بشپړ بریالیتوب غواړي.

# افتتاح تعمیر جدید برای محصلین اناث در دارالمعلمین لوگر

تعمیر جدید تدریسی برای محصلین اناث در دارالمعلمین ولایت لوگر توسط محمد حلیم فدایی والی، انجینر محمداکبر درسی، ۴ اتاق اداری، لابراتوار، کتابخانه، ۱۶۰ پایه میز و چوکی محصلین و سایر ملحقات ضروری می باشد. با



ستانکزی رییس معارف در حالیکه مسوولین ادارات دولتی نیز حضور داشتند، با قطع نوار افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در یک طبقه به کمک مالی کشور هندوستان به مصرف مجموعی ۱۳ میلیون افغانی در مدت ۹ ماه اعمار گردیده، که دارای ۸ صنف اعمار تعمیر متذکره مشکل محصلین اناث دارالمعلمین یاد شده از ناحیه نبود تعمیر مرفوع گردیده است.

گفتنی است که در ولایت لوگر به تعداد ۶۵۹ تن که ۱۸۷ تن آن محصلین اناث می باشند در دارالمعلمین مرکزی و ۵ باب الحاقیه آن مصروف تحصیلات نیمه عالی هستند.

## بادغیس کې د یوه ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د بادغیس ولایت د مرکز قلعه نو د سیني های لامان منځنی ښوونځي نوې ودانۍ تر جوړېدو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

ددې ښوونځي نوې ودانۍ د څه باندې ۸ میلیون افغانیو په لګښت د یوه کال په موده کې د پوهنې وزارت له پرمختیایي بودیجې جوړه شوې ده. دا ودانۍ شپږ درسي ټولګي، څلور اداري خونې، لابراتوار، کتابتون، پنځه تشنابونه، د اوبو څښلو ځاه، او نورې اړینې آسانتیاوې لري .

د سیني لامان ښوونځي د نوې ودانۍ په جوړېدلو سره د یاد ښوونځي شاوخوا ۲۸۰ تنو زده کوونکو ته د خوندي تدریسي چاپېریال اسانتیاوې برابرې شوې دي.

د ودانۍ د پرانیستې په تراو جوړو شویو مراسمو کې د بادغیس ولایت د مقام مسوولینو، د ولایتي شورا غړیو، قومي مشرانو، د دولتي ادارو یو شمېر کارکوونکو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون درلود.

## د نجم الجهاد لیسې د احاطې جوړولو چارې پیل شوې

د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې د نجم الجهاد لیسې د احاطې جوړولو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د یاد ښوونځي ښوونکو، زده کوونکو او د پوهنې مسوولینو پکې برخه اخیستې وه، پیل شوې.

د احاطې دغه دیوال ۴۳۰ متره اوږدوالی او دوه نیم متره لوړوالی لري، چې په راتلونکو دریو میاشتو کې به یې چارې بشپړې شي.

په دغه دیوال ۳ میلیونه او ۸۰ زره افغانۍ لګښت راځي، چې د افغانستان د بیا ودانولو مرستندویه اداري لخوا ورکول کیږي.

د ننګرهار د پوهنې سرپرست رییس سید عیسی سادات د یاد ښوونځي لپاره د احاطې جوړول د زده کوونکو لپاره د خوندي تدریسي چاپېریال د برابرولو په برخه کې یو مهم ګام وباله او هیله یې وښوده، چې په بشپړېدو سره به یې زده کوونکو ته آرام چاپېریال رامنځ ته شي.

## خلک

له ما ګوښه دي له ما ډېر لري ودان دي خلك
زه توري خاوري يم او ستوري د اسمان دي خلك
زه وم يو زخم، څكه مالګي دوړولې هر چا
زه يم يو ګل، څكه ملګري د خزان دي خلك
د چا تر سر تېر شه اشنا چي دروازه جوړه شي
لكه دېوال ولاړ زما او ستا تر ميان دي خلك
زړونه يې وګوره چي تور نه وي د كفر په شان
مخ ته يې مه ګوره چي سپين لكه ايمان دي خلك
تر څو چي وږي وي دروېشه نو دوستي يې ښه ده
پر خزانه باندي چي كښيني تور ماران دي خلك

راليږونكى: نجيم

## ضمير

له بدو څرنګه لاس واخلي چې ضمير نه لري
شيطان به وتړي په څه باندې، زنځير نه لري
هر څه په خپله خوښه كاندي، بل ته غوږ نه نيسي
زړه د بدن داسي باچا دى چې وزير نه لري
خپل خيرن زړه به نو په كومه رڼا باندې وينځي
كه سړى ټول عمر خوشاله وي او وير نه لري
زما زړګى به هم تل نه ګوري د غشو لاره
او ستا باڼه به هم مدام داسي تاثير نه لري
دا دومره ژر چې ټولوي دروېشه داسي ښكاري
چې له جهانه د تګ نيت د ښار امير نه لري

راليږونكى: عزير

## د ثلورو ملګرتيا

اوريدلی مې نومونه هم ثلور دي

نازل شوي کتابونه هم ثلور دي

دثلور فرشتو په لاس نظام دی

امامان دي مسلکونو هم ثلور دي

په ثلور بازو ګانو دې سفر دی

جنازه کې تکبيرونه هم ثلور دي

رحمان وائي د ثلور و ملګرتيا کره

ستا دقبر ديوالونه هم ثلور دي

راليږونکې: نفيسه

## ای انسانه

- دنيا لپاره دومره خواری وکاږه څومره چې ته دلته اوسيږې
- آخرت لپاره دومره خواری وکاږه څومره چې هلته اوسيږې
- دالله رضا لپاره دومره کوشش وکړه څومره چې ورته محتاجه يې
- ګناه دومره وکړه څومره چې يې عذاب زغملای شي.
- يوازی دهغه څخه يې وغواړه چې د هيچا محتاج نده

راليږونکې: حسيبا

## سخنان بزرگان در باره تعلیم و تربیت

معلم بر جاودانگی اثر می‌گذارد و هرگز نمی‌توان گفت اثر او کی متوقف می‌شود
معلم کسی است که خود را به صورت پیش‌رونده‌ای غیرضروری می‌سازد
معلم معمولی، می‌گوید؛ معلم خوب، توضیح می‌دهد؛ معلم برتر به نمایش می‌گذارد؛ معلم بزرگ، الهام می‌بخشد
معلم خوب، بهتر از معلم جذاب است؛ زیرا معلم جذاب، تدریس را تحت الشعاع قرار می‌دهد
هر حقیقتی، چهار گوشه دارد؛ من به‌عنوان معلم، یک گوشۀ آن را به شما نشان می‌دهم؛ بر شماست که سه تای دیگر را بیابید
برترین نتیجۀ تربیت، تحمل است
تدریس خوب، از افراد خوب برمی‌آید
یک روز با یک معلم بزرگ بودن، برتر از هزار روز مطالعۀ مجدانه است
زندگی زیر چتر علم و آگاهی آن‌قدر شیرین، و انس با کتاب و قلم و اندوخته‌ها آن‌قدر خاطره‌آفرین و پایدار است که همه تلخی‌ها و ناکامی‌های دیگر را از یاد می‌برد
ملت از راه آزادی به تعلیم و تربیت دست می یابند، نه برعکس

راليږونکی: رساله

## سیاه دانه

سیاه دانه را پیامبر اکرم (ص) درمان هر دردی به جز مرک می دانست . خواص و فواید سیاه دانه و عسل به قدری فراوان هستند که از درد ناخن پا تا درد و بیماری های نوک موی سر را می توان با آن در مان کرد .
سیاه دانه طمعی تلخ دارد و به عنوان ادویه ودر مواد غذایی به خصوص ترشیجات استفاده میشود . و مصرف سیاه دانه در کاهیش قند خون فشار خون و در درمان دیابت بیماری های قلبی کم خونی موی رفتگی و تقویت موی سر مفید است . و همچنان به زنان شیر ده بسیار مفید است زیرا با عث افزایش ترشح شیر میشود . معجون ترکیبی از عسل وسیاه دانه که تهیه آن بسیار ساده و در عین حال موثری هست که از قدیم در طب سنتی محبوب بوده و برای درمان بیماری های مختلفی از آن استفاده می شد.سیاهدانه در ترکیبات مختلف، اثرات درمانی متفاوتی دارد .

ارسالی: عابده عابدی

## خواص سرکه سیب

سرکه سیب یک ماده مفید دارای خواص ضد باکتری ضد التهاب است و برای تقویت پوست - مو - هضم غذا - پوکی استخوان مورد استفاده قرار میگیرد .
سرکه سیب سر شار از مواد مغذی ای است که به لاغر شدن کمک میکند و هضم غذا را راحت تر میسازد و خواصی دارد که با گلسترول - فشار خون بالا - پیری زود رس - عفونت گوش مقابله میکند . واگر میخواید دندان های سفید داشته باشید صبح یک بار غرغره کرده و همچنان با غرغره کردن سرکه سیب باکتریای دهن و عفونت های بیره از بین رفته و در سفید کردن دندان ها کمک میکند .
با اینحال ازان در زمینه های مختلفی از زیبایی گرفته تا سلامتی استفاده میگردد . بعضی از افراد سرکه سیب را با عسل مخلوت کرده مصرف میکنند که به کاهیش فشار خون بالا - چربی خون ولاغری تاثیر مثبت دارد .

ارسالی: عابده عابدی

## سبزیجات از کالوری پایینی برخوردار هستند

در حدود یک سوم مردم دنیا از بیماری چاقی رنج می برند. به منظور کاهش وزن، باید از غذاهایی با کالوری پایین استفاده کرده و تحرک خود را نیز افزایش دهید. استفاده سبزیجات از اهمیت ویژه ای برخوردار می باشد. مردم اکثراً به خوردن غذاهای با چربی بالا تمایل زیادی نشان می دهند. رژیم غذایی چرب، ریسک ابتلا به بیماری های قلبی و انواع خاصی از سرطان ها را افزایش می دهد. از سوی دیگر چربی هایی که باعث ایجاد ناراحتی قلبی می شوند در سبزیجات در پایین ترین حد خود قرار دارند. بسیاری از خوراک های حیوانی مقادیر زیادی کلسترول در خود جای می دهند. مصرف اینگونه غذاها، کلسترول موجود در خون را افزایش داده و موجب بالا رفتن خطر ابتلای بیماری های قلبی نیز می شوند. از آنجاییکه سبزیجات فاقد کلسترول می باشند می توانند از بروز این بیماری کشنده در افراد جلوگیری کنند.

گل‌آغا احمدي وردگ

## محمد حنیف اتمر د پوهنې دوه څلويښتم وزير

ښاغلي محمد حنيف اتمر له ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۸۷ کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزير په توګه دنده اجرا کړې ده. ښاغلی محمد حنيف اتمر د محمد آصف اتمر زوی چې په ۱۳۴۷ کال د لغمان په ولايت کې زيږېدلی دی، د افغانستان د کليو د پراختيا، پوهنې او کورنيو چارو د وزير په توګه يې دندې اجرا کړې دي. ښاغلي محمد حنيف اتمر خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې د هېواد د ننه، د



کمپيوټر او معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د معادل لېسانس زده کړې په لندن او په ۱۳۷۷ کال د انګلستان د يارک له پوهنتون څخه يې د نړيوالو اړيکو او پراختيا په برخه کې ماستري لاسته راوړې ده. ښاغلي محمد حنيف اتمر له ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې د غير دولتي موسساتو په چوکاټ کې په بشري او عمراني چارو بوخت وو او له افغان مهاجرينو سره يې د مرستو ګڼ پروګرامونه تنظيم کړي دي. محمد حنيف اتمر په ۱۳۸۱ کال د کليو د پراختيا د وزير په توګه و ټاکل شو او د لومړي ځل لپاره يې په هېواد کې د ملي پيوستون پروګرامونه پلي کړل. نوموړی په ۱۳۸۵ کال د پوهنې د وزير په توګه په دنده و ټاکل شو او په ۱۳۸۷ کال د کورنيو د چارو وزير شو چې تر ۱۳۸۹ کال پورې يې دغه دنده مخته يوړه. ښاغلی محمد حنيف اتمر د ۱۳۹۳ کال د تلې د مياشتې په ۸ مه نېټه د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا د ملي امنيت د شورا د سلاکار په توګه و ټاکل شو او له ټاکل کېدو سره سم يې د افغانستان په استازيتوب د امريکا د متحده ايالاتو سره امنيتي تړون لاسليک کړ.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 227, Month January – February 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# پوهنې وزارت د مدني ټولنې له بنسټونو او استازو سره مشورتي ناسته وکړه

د افغانستان د پوهنې وزارت د هېواد د ښوونیز نظام د ودې او پیاوړتیا په موخه د مدني ټولنې له یو شمېر بنسټونو سره غونډه وکړه. په دې غونډه کې، چې د پوهنې وزارت د سرپرست ډاکټر محمد ابراهیم شینواري په مشرۍ جوړه شوې وه، د ښوونیز نظام د بېلابېلو اړخونو د پیاوړتیا او پراختیا په اړه پراخ بحثونه وشول .

له مدني ټولنې سره په یاده ګډه غونډه کې د ښوونځي سن ماشومانو په ځانګړي ډول د نجونو د شمولیت، د بېرته راستنو شویو ماشومانو د شمولیت، په تعلیمي خدماتو او اداره کې د فساد د مخنیوي، د بندو ښوونځیو د بیا پرانیستلو، د خلکو په ځانګړي ډول د علماو د ملاتړ جلبولو، د لومړنیو ټولګیو د نصاب د بشپړولو، انلاین زده کړو، د ښوونځیو د غیر نظامي او غیر سیاسي لوري د پیاوړي کولو، د یوه ځواب ویونکي نظارتي سیستم د رامنځ ته کولو، د ښوونکو د استخدام، د ښوونکو د معاشونو، د ښوونځیو لپاره د ودانیو پر جوړولو او بیارغولو، په لرې پرتو سیمو کې د محلي او چټکو زده کړو د ټولګیو په جوړولو، د هېواد د ټولو خلکو لپاره د متوازنو زده کړو د اسانتیاو په برابرولو، د کره مالوماتو په راټولو، د ښوونکو د مسلکي کولو، له انټرنېټ سره د ښوونځیو د نښلولو او یو شمېر نورو مهمو مواردو په تړاو هر اړخیز بحثونه او خبرې وشوې. په دې غونډه کې له اړوندو ادارو په ځانګړي ډول له لوړو زده کړو وزارت سره د همغږۍ او کاري اړیکو پر پراختیا هم ټینګار وشو.

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ابراهیم شینواري د هېواد په ښوونیز نظام کې د اړینو اصلاحاتو د راوستلو په برخه کې دغه غونډه یو مهم ګام وباله او ژمنه یې وکړه، چې له مدني ټولنې سره په همغږۍ او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کلک ملاتړ پر اساس به د هېواد معارف ته وده او پیاوړتیا ورکړي. ښاغلي شینواري پوهنې وزارت سره په بېلابېلو برخو کې خپلې طرحې شریکې او کاري اړیکو ته دوام ورکړي، چې د افغانستان ټولو خلکو ته د باکیفیته او معیاري زده کړو زمینه برابره شي .

د یادولو وړه ده، چې له مدني ټولنې سره دغه غونډه د ولسمشر محمد اشرف غني په مشرۍ د بشري قوا د عالي شورا د وروستۍ غونډې په دوام، چې پکې یادې ټولنې د افغانستان په معارف کې د اصلاحاتو د بهیر په اړه د پوهنې کاري ځواک تر نامه لاندې طرحه وړاندې کړه، جوړه شوه .

د بشري قواو په عالي شورا کې د مدني ټولنې د استازو لخوا په وړاندې شوې



یادونه وکړه، چې ولسمشر محمد اشرف غني ټولو والیانو ته امر کړی، چې له معارف څخه هر اړخیز ملاتړ وکړي او په دې برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. نوموړي د مدني ټولنې له استازو وغوښتل، چې له هغې طرحه کې د ښوونځیو مدیریت، چټکې زده کړې، د ټولنې په کچه ټولګي، لرې زده کړې، انلاین ښوونه او روزنه، تعلیمات او څارنه او یو شمېر نور مهم موضوعات شامل وو.

# هلمند کې د محلي ټولګیو نږدې ۲ زره زده کوونکي رسمي ښوونځیو کې شامل شول

د افغانستان په سویل لویدیځ هلمند ولایت کې د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون GPE پروګرام له مخې ۶۲ کلیوالي او د چټکو زده کړو ټولګي د ښوونیزې دورې تر بشپړولو وروسته رسمي ښوونځیو ته ور وپیژندل شول. په دغو ټولګیو کې ۱۹۲۲ زده کوونکي، چې له ډلې یې ۵۸۳ نجونې دي؛ روزل شوي دي .

د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون دغه ټولګي د یاد ولایت په مارجه، ناوه او ګرمسېر ولسوالیو کې وو او د خپلې تعلیمي دورې تر بشپړولو وروسته ددې ولایت ۲۸ رسمي ښوونځیو ته رسماً ور وپیژندل شول .

د یادو ټولګیو زده کوونکي د رسمي ښوونځیو په څلورم او اووم ټولګي کې شامل شوي او د یوې روښانه راتلونکې لپاره به خپلو زده کړو ته دوام ورکړي .

کلیوالي ټولګي په هغو سیمو کې چې له رسمي ښوونځیو ډېره فاصله ولري د یوې مودې لپاره جوړېږي او زده کوونکي یې له فراغت وروسته په رسمي دایمي ښوونځیو کې د زده کړو د دوام په موخه شاملېږي.

د یادو زده کوونکو د شمولیت په موخه په ښوونځیو کې د سیمې د قومي مشرانو، علماوو، د پوهنې د ولایتي چارواکو او د زده کوونکو د والدینو په ګډون جلا غونډې جوړې شوې وې او د دوی اړوند ټول اسناد او اجناس هم ښوونځیو ته وسپارل شول.

د سیمې قومي مشرانو د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام له فعالیتونو څخه د مننې ترڅنګ د ټولګیو د زیاتوالي او د ښوونځیو لپاره د ودانیزو پروژو غوښتنه وکړه. یادو مشرانو د خپلو اولادونو د ښې راتلونکې په موخه د پوهنې په برخه کې د هر ډول مرستې او همکارۍ ډاډ ورکړ او ژمنه یې وکړه، چې په خپلو سیمو کې به د هر ډول ښوونیزو مرکزونو ساتنه او پالنه کوي.

# عقد تفاهمنامه همکاری آموزش های حرفه یی و مسلکی

تفاهمنامه همکاری میان معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف و موسسه برک افغانستان روی موضوع «راه‌اندازی برنامهء آموزش‌های مسلکی و حرفه‌یی برای بانوانی‌که به



دلایلی نتوانسته‌اند؛ پس از ختم دوره ابتداییه به تحصیلات‌شان ادامه دهند» توسط پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف و محمدانور حسن، رییس عمومی موسسه برک افغانستان، به امضا رسید.پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی گفت که «این تفاهم‌نامه را به‌منظور فراهم‌سازی شرایط مناسب فراگیری آموزش‌های مسلکی و حرفه‌یی برای بانوانی‌که نتوانسته‌اند؛ به دلایلی پس از ختم دورهء ابتداییه به تحصیلاتِ شان ادامه دهند، امضا می‌کنیم تا آنان بتوانند حرفه و مسلک بیاموزند«.آقای فرملی اضافه نمود که این معینیت، به دلیل این‌که در تمامی ولایت‌های کشور انستیتوت دارد، می‌تواند از طریق آموزش‌دهی و راه‌اندازی برنامه‌های میان‌مدت و کوتاه‌مدت، زمینه فراگیری آموزش‌های مسلکی و حرفه‌یی را در همکاری با موسسه برک افغانستان، برای بانوانی‌که از تحصیل بازمانده‌اند؛ فراهم نماید.

معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی ضمن ابراز سپاس و قدردانی از کمک‌ها و همکاری‌های موسسه برک افغانستان، گفت که این معینیت مواد این تفاهم‌نامه را با شوق و جدیت کامل تطبیق می‌کند و تعهد می‌سپارد که تمام بخش‌های آن را عملی خواهد ساخت.هم‌چنان محمد انور حسن، رییس عمومی موسسه برک افغانستان دست‌رسی بانوانی را که از تحصیل بازمانده‌اند؛ به آموزش‌های مسلکی و حرفه‌یی کوتاه مدت و میان مدت مهم دانسته و از رهبری معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی جهت همکاری‌های همه‌جانبه شان با موسسهِ برک به نیکی یاد کرده قدردانی نمود .

قرار است بر بنیاد این تفاهم‌نامه، در ۴ سال آینده برای ۹هزار تن از بانوانی‌که تا ختم دوره‌ای ابتداییه از طریق آموزش تسریعی مکتب‌های محلی درس‌های‌شان را تکمیل کرده‌اند، اما به دلایلی موفق به ادامه تحصیل نشده‌اند؛ زمینه آموزش‌های مسلکی و حرفه‌یی کوتاه مدت در ولایت‌های کابل، هرات، ننگرهار، جوزجان، سمنگان، بغلان، پروان، کاپیسا، بلخ و کندز فراهم شود.

# پیام تسلیت

با تاسف فراوان اطلاع حاصل نمودیم که محترم محمد عارف فرزند محمد خان سرمعلم مکتب سیدال ناصری از اثر مریضی که عاید حالش گردیده بود جهان فانی را وداع گفته و به ابدیت پیوست .

انالله و انا الیه راجعون

شادروان در سال ۱۳۳۷ در قریه عزت خیل ولسوالی حصه اول کوهستان ولایت کاپیسا دیده به جهان گشود، بعداز ختم تعلیمات ابتدایی در قریه مذکور شامل مکتب میر مسجدی خان گردیده و در سال ۱۳۵۷ از لیسه نامبرده فارغ شد. مرحومی در مکاتب واسع خیل و لیسه محمد فقیر فیروزی مدت هفت سال را در خدمت اولاد وطن سپری نمود و از آن به بعد الی



آخرین روز حیاتش در لیسه سیدال ناصری به صفت سرمعلم ایفای وظیفه می نمود. مرحوم یک شخص دلسوز، مهربان، و مسوولیت پذیر بود. وزارت معارف کشورمرگ نا به هنگام ایشان را یک ضایعه بزرگ برای نظام معارف دانسته برای متوفی بهشت برین و برای بازماندگانش از دربار ایزد منان صبر جمیل استدعا می نماید.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین: بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت